# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

## AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد		بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم		از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com		afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
|---|---|

دگرمن احمد قندهاری
۳۰ دسمبر ۲۰۱۳

# امن په افغانستان کی

اشغالگر امریکا ناتوئی قواوی چه په افغانستان کی د امن د راورلو تضمین کړی وه، که اوسنی حالت په لند ډول تر څیرنی لاندی ونیسو د حالاتو څرنگه والی په لاندی ډول خلاصه کیږی :

پسله ۱۳ کاله تیریدو څخه څه کم د ۱۴۰ زره ناتوئی قواوی په شتون او څه کم او یا زیات ۴۵۰ زره امنیتی او ملی اردو قواوی په درلودلو سره امن په وطن کی و دی سرحد ته رسیدلی دی چه د کابل شار ته باید د کابل حربی سنگر ووایو پدی معنی چه د کابل لوی شار په هره سیمه او گوت کی د فرانسی د ماژینو د دفاعی لیک په څیر غټ غټ بتونارمه سمنتی موانع او اغزی لرونکی حربی سیمان ځای پر ځای شویدی ؛ او ددی پر څنگ مسلح ساتونکی او سربازان د عوامو خلگو په تلاشی بوخت دی چه دا پخپله د نا امنی نخشه ده . تول هغه موتران که د جنگسالارانو تعلق پکشی نوی ډیر سخت تلاشی کیږی.

که د وزیر اکبرخای سیمی ته ورشی د هر کور پر دیوالو باندی اغزی لرونکی سیمان راچاپیر شوی او د هر کور د دروازی په مخ کی د سمنتی حربی دیوالو پر څنگ په لسگونو ساتونکی پهره داران گمارل شویدی او څلورویشت ساعته په وظیفه بوخت دی . دا کورونه د دولت لوړ پوری مأمورین قومندانان او دخارجی کمپنیانو گمارل شوی نمایندکان هستوگنځی ځایونه دی چه دا پخپله د نا امنی شکارندوی دی پداسی حال کی چه د امن او امنیت ړغونه را روان دی.

ولی بیا هم لیدل کیږی چه طالب تروریستان کولای شی چه خپله نشه په هرځای کی چه وغواری په هم هغه ځای کی سر ته رسوی . اکثراً ولسوالی او د مواصلاتی لوی لاری د دولت او حکومت د امنیتی کنترول څخه وتلی دی ..دا په داسی حالت کی دی چه ټول جهادی قومندانان د ولایات او ولسوالیو د امنیتی چاروا‌کی په راس کی ټاکل شوی او دنده اجراکوی لیدل کیږی چه خلگ نه یواځی امن نلری بلکه ددوی دظلم او تیری څخه سرونه ټکوی او هره ورځ د خلکو خود جوش پاڅونونه لیدل کیږی.

د کابل ښاریان پخپل ورځنی ژوند کی د ناوړو پیشو له امله د امن احساس نکوی او د یو رنځور ژوند سره تل مخامخ دی.

امریکائیان دخپل لاس کشینولی جاسوسان او اجنتان پواسطه سره په خلگو کی بیره پیداکوی چه که امریکائیان د افغانستان څخه ووځی سم دستی طالب به راشی او کورنی جگړه به بیا پیل شی چه ددی وجهی په خاطر دا ذهنیت په

عوامو کی پیدا شوی چه امریکاییان ددی وطن ساتونکی دی . دا پروپاګندونه د افغان ولس ملی روحیه وژنی او د خپلواکی غوښتونکی پاڅونونه شا ته ټمبه کوی او خپل استعماری تړون پر ولس تحمیلوی.
ځکه چه د امنیتی او اردو مالی او لوژستیکی اکمالات د امریکا له خوا تامینیږی. او هره ورځ دا ددوی د اجنتانو له خوا د ولس د ذهن د زهر شندلو او دملی غرور د ماتولو په خاطر د یوه سپینه وسله په څیر استعمالیږی.
له بلی خوا ټول هغه مسلکی او روزل شوی پخوانی صاحبمنصبان چه حزبی او جهادی اړیکی ندرلود د یو ځانکړی فرمان په اساس تقاعد ته مجبور شول . ولی چه امریکاییان نوی کسان روزی چه ددوی پلانونه ورعملی کړی.
امریکاییان او ناتوئی قوتونه پر دو برخو په بیل ډول په نړی کی کرنه لری یو حربی ځواکونه او بل یی سپین ځواکونه چه ډیر اغیزناک او خطرناک دی چه هغه عبارت له داخلی مزدوران او رسانیی او رادیوی پروپاګندی ماشین دی چه دولس ذهنیتونه د خپل پلانونو د عملی کیدو د پاره اماده کوی چه ددی تاکتیک ښخه هیټلر په دوهم عمومی جګړه کی دیره ګټه اخیستل چه د یوځی په اصطلاح پت اردو او یا (پنځم قول) په نامه یادیدل پدی معنی چه د جاسوسانو په ګمارل کیدو سرحد جګړی تر شا فعالیتونه دی . په شارونو او کلیو کی د خلګو په منځ کی بیره پیدا کول.
لکه چه د افغانستان په اوسنی حالت کی د ځوانانو کلتور او ملی روحیه د لویدیځ بی کیفته او لومپنی کلتور په راورلو سره ویجاړه وی .
لکه د امریکا هالیود چه د امریکا سپینه اردو په نامه کله کله یادیږی او نړیوال فعالیتونه یی تر پنتاګون ډیر اغیزناک دی.
ټول هغه خلقی او پرچمی خادی او جهادی صاحبمنصبان چه پر ضدبشری جنایتونه ګرم دی د امریکاییانو سره یو ځای ددی بی کیفیته اردو په اداره کی مشترکه ونده لری او د لویو دالری امتیازات خاوندان دی.
مګر وطنپال او با احساس صاحبمنصبان چه ټول لوړ مسلکی پوهه لری په ډیر رنځوری او خواری ژوند سبا کوی.
ټول هغه کسان چه په ضد بشری جرمونو محکوم دی د بهرنی قواوی ملګری دی ولی چه دوی هم په افغانستان کی په ضد بشری جرمونو محکوم دی. پدی ورځو کی یو بل خادی جهادی صاحبمنصب چه د روسی لاس کشینولی حکومت په وخت کی د اردو لوی څارنوال و ( حسین فخری ) دفساد پرضد د اداری رئیس و ټاکل شو. ددی څارنوال صاحب په امر او بیریکره باندی ددی وطن خپلواک غوشتونکی ځوانان په بند او اعدام محکوم شویدی نو ځکه اوس امریکائیا ن ورته اړتیاوی لری. او د کدوالی په دوران کی بیا د جمعیتی شمالی قومندانانو شاعر او لیکوال شو چه په نتیجه کی دا منصب تر لاسه کړل.
د ۸ یا ۱۰ زرو دالرو معاش اخیستل پدی پروژه کی پخپله فساد ګڼل کیږی او د امریکاییانو او نورو فاسدانو ملاتړ کوی .هغه د شورا غونده چه باید د وطن ددشمنانو غونده ورته وویل شی د امریکاییانو یو مصرفی پروژه او یو استعماری پلان وو ، تر هغه سخت امنیتی تدابیر لاندی ونیول شو چه د شورا د ګوت پر شاوخوا څلور او یا پنځه امنیتی کړی له هری خوا ځای پر ځای شوی وه چه اوله کړی یی د کابل د نوی شارښخه پیل تر پولیتخنیک پوری چه اخرنی لیک وه .او پخپله استازی هم سخت تلاشی کیدل یعنی کم باوری دونه وه چه پر خپل استازی باندی هم باور ندرلود. او ویل کیدل چه د غوندی مصارف تر پنځه میلیونو دالرو هم زیات و . پدی امریکایی پروژه چه مختلفی انجوګانی کار پکښی کاوه د غوندی ګدون کونکی اکثرا بی سواد او افغان امریکایی تکنوکراتان چه د هری خانګی په راس کی ګمارل شوی و د پریکړی فیصله او نظر د امریکاییانو په ګته غوره کیدل چه بیا هم هغسی اعلان وشی.
چه امریکاییان باید په افغانستان کی پاته شی او دا استعماری قدرت ددی هیواد ساتندوی دی دا هغه پریکړی دی چه بیا د هیواد په تاریخ کی تکراریږی چه د روسی ګوداګیان د روسانو شتون په افغانستان کی حتمی ګڼل. مګر د افغانستان پتمن خلګ سخت ځواب ورکړل چه اوس خلقی پرچمی بیا هم د امریکا د استعمار ژمنه کوی او د ولس پر

ضد په پیریکړه کی د لویدیځ ځواکونو مل دی .که څه هم په اوسنی حالت کی د هیواد تول پوځی ستراتیژیکی اډی د امریکایی وسله والو په ولکه کی دی او سخت پوځی تأسیسات یی هم جوړ کړیدی او هیڅکله زموږ هیواد په رضا خوښی نکړی. ولی دا تول ډرامی د دنیا د خپلواک غوښتونکو قوتونو د غولولو په وجه ده . امریکایی تکنوکراتانو تبلیغ کوی چه افغانستان یو لوی اقتصادی لاس راوړنه لری په رشتیا سره هم چه ددوی ګوداګیان او مافیایی لوړپوری مامورین او جنګی توپکیان ددیر شتمنی خاوندان شویدی او دا اقتصادی لاس راوړنه مختص ددوی لاس راوړنه دی چه ددی کسانو شتمنی تر حساب وتلی دی مګر د ولس عامه وګړی او خواریکښان د بی کاری او بی وځلی او بی کوری څخه رنځور ژوند تیروی. پداسی حال کی چه د امریکا او ناتویی ګمارل شوی لوړ رتبه مامورین د یووخت دودی ارزښت په امریکایی رستورانتو کی د ۵۰ تر ۱۰۰ دالرو پوری دی او د مامورینو معاش د ۱۰۰ دالرو څخه بیا تر ۲۵۰ دالره پوری رسیږی . د میثال په توګه په کندهار کی ددارالمعلمین د یو استاذ معاش د امتیازاتو سره و ۱۲۰۰۰افغانی ته رسیږی او بل معلم صاحب چه په لیسه کشی دوه وخته لوست ورکول ویل چه زما معاش و ۱۵۰۰۰ افغانی ته رسیږی او په کندهار کی د یوه دودی بیه ۱۵ افغانی ده نو ددی له کبله ژوند دیر په سختی سره تیریږی ځکه چه نور خوراکی مواد هم دیر ګران دی که بازار ته د خوراکی اړتیاوی د رانیولو دپاره ولاړشی په اوس حال کی ۵۰ افغانی ارزښت د پنځو افغانی سره سمون خوری. او ټول هغه وطنوال کدوال چه بیرته راستانه شویدی په دوکانداری لګیا دی چه د بازارونو سخت اقتصادی تراکم را منځ ته کړیدی .دا چه دوی د لیل راوری چه که امریکاییان نوی نه تنخوا نسته او نه به دا نظام پاته شی ولی چه معاشات او مصارفات امریکاییان تامینوی او دا عجیبه خبره ده ددی پرځای چه د امریکاییانو اوږد محال استراتیژیک پلانونه په سیمه کی تر غوراو څیرنه لاندی ونیسی مهمه معضله تنخواوی او نظام رنګیدل و ولس ته مخامخ کوی دا پدی خاطر دی چه د دولت مشاورین او وزیران او د شورا د استازی په ټوکه ۱۲ زره دالره تنخوا لری او دغه فاسد لوړ پوری مافیایی مامورین د لورو دالری تنخواوی به لرلو سره دا نظام جوړ کړیدی نو ځکه دوی خپل ځانونه په خطر کی وینی دوی هیڅکله پر خپل ولس باندی زره سوی ندی کړی ددوی جنایتونه د امریکایانو راتګ سبب شویدی . په اصل کی د افغانستان ولس غواری چه یو ملی او ولسی عادل حکومت ولری نو نه به دافاسد نظام وی او نه به د امریکا استعماری او نظامی شتون. دا تحلیلګر سیاسی جاسوسان د امریکایی عسکرو پر جنایاتو باندی نه ژغیږی ولی چه د امریکاییانو په نه شتون سره دوی نسکور او د منځه ځی مګر دا باید ومنی چه افغان ولس او تاریخی ټآتوبی به تل پاتی او ژوندی به وی .

که په افغانستان کی یو ملی حکومت راشی نو افغانستان لکه پخوا غوندی خپل تول مصارفات تامینولای شی. د افغانستان طبیعی شتمنی او دولتی عواید دونه زیات دی چه حتی کولای شی چه د نړی د بی وځلو سره هم مرسته وکی. فقط یو شی پدی هیواد کی کم دی چه هغه ملی او ولسی خپلواک او باارداه دولت او حکومت دی. لویدیځ ځواکونه چه د ښځو پر حقوقو باندی دیری کلتوری نمایشی پروژی جوړ کړیدی چه په تیلویزینو کی د ښځو د حقونو تر نامه لاندی غولونکی پروپاګندی ډرامی جوروی چه پخپله د ښځو پر حقوق باندی تیری او تر پښو لاندی کول دی . د امریکاییانو په راتګ سره د ښځو حق و دی ځای ته رسیدلی دی چه که یوه ښځه و غواړی بازار او یا مکتب ته ولاړه شی د یو چادری پر ځای دوی چادریګانی اغوندی ځکه چه چارپیریال د یو قرون اوسطای او طالبانی کلتور لاندی دی او حتی ښونځی او پوهنتونونه تول طالبانی شویدی د میثال په توګه د کندهار تول د ښونځی انجونی چه ښونځی ته ځی د سعودی عرب په څیر مخ پټوی چه طالبان ناراضه نشی ولی چه بیا که مخ یی معلوم شی نو بیا د تیزاب شندلو امکانات اشته او د ښونی او روزی په ساحه کی تول طالبانی لوست کیږی ولی چه د طالبانو د بیا راتګ پروپاګندونه په خلګو کی بیره سته که څه هم دا ټول منفی اړخونه په نښه شوه مګر بیا هم په نسبی ډول د خلګو

د پاره د پروند او کارو بار شرایط برابراو عوام وگړی کوشش کوی جه ځانونه د شرایط سره سم پروند برابر کی خوبیاهم امن ددوی د پروند لمړنی اړتیاوی څخه دی.

د امن د راورلو په خاطر د یو ملی او خپلواک د ټولو خلګو پر اراده ولاړ دولت په هیله.

د . ا. ق

۱۲/۲۹/۲۰۱۳